مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ دویمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۲مه | ٦۳۲مه ګڼه

# د شپږ نیمو د جلسې له دوام سره سره؛

## په کابل کې راکیټي بریدونو اته ملکیان وژلي او ۳۱ نور یې ټپیان کړي دي



۵

**راکیټي بریدونه؛ وحشت او یو بد یاد**

۲ مخ

**د شانگهای همکارۍ سازمان سرمشریزه؛ د چین او افغانستان د اړیکو ...**

۲ مخ

**اوباما بالاخره د اسامه د وژلو له رازونو پرده پورته کړه!**

۳ مخ


## د قانوني کابینې پر لور؛ ولسي جرگې لسو نوماند وزیرانو ته د باور رایه ورکړه

ولسي جرگې تېره ورځ د کابینې لسو غړو ته د باور رایه ورکړه. دا اقدام چې په یوه ځل د کابینې لس غړي له ولسي جرگې رایه واخلي، کمساری برېښي. ولسي جرگې ته تېره اونۍ د کابینې لس وزیران د خپلو پروگرامونو د تشریح کولو لپاره ورغلي وو، چې ټاکل شوې وه تېره پنجشنبه دوی ته رایې وکارول شي، خو د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان د راتگ له امله دا پروسه تېرې ورځې ته ځنډول شوې وه. ولسمشر غني بیا د ولسي جرگې له دې اقدام څخه مننه او هرکلی کړی دی.

تېره ورځ ولسي جرگې د بهرنیو چارو، کورنیو چارو او ملي دفاع په څېر د کلیدي وزارتونو تر څنگ د اوو نورو وزارتونو وزیرانو ته د باور رایې ورکړې. په دې ډله کې د بهرنیو چارو وزارت لپاره حنیف اتمر ۱۹۷ تاییدي رایې، د مالیې وزارت لپاره عبدالهادي ارغندیوال ۲۰۵ تاییدي رایې، د کورنیو چارو وزارت لپاره محمد مسعود اندرابي ۲۱۴ تاییدي رایې، د ملي دفاع وزارت لپاره اسدالله خالد ۲۰٦ تاییدي رایې، د عدلیې وزارت لپاره فضل احمد معنوي ۲۲۰ تاییدي رایې، د لوړو زده کړو وزارت لپاره عباس بصیر ۱۹۷ تاییدي رایې، د صنعت او سوداگرۍ وزارت لپاره نثار احمد غوریاني ۲۱۳ تاییدي رایې، د مخابراتو او ټکنالوژۍ وزارت لپاره معصومه خاوري ۱۵۴ تاییدي رایې، د کار او ټولنیزو چارو وزارت لپاره بشیر احمد ته ینج ۱۹۰ تاییدي رایې او د ارشاد حج او اوقافو وزارت لباره محمد قاسم حلیمي ۱۴۸ تاییدي رایې خپلې کړې دي. په دې توگه ولسي جرگې ته ورغلي لس نوماند وزیران ټول په دې بریالي شول چې د وکیلانو د باور رایې خپلې کړي او په رسمي توگه خپلو دندو ته ادامه ورکړي.

ولسمشرغني:

## ملگري ملتونه دې پر طالبانو د فشار لپاره خپل بندیزونه پلي کړي



۵ مخ



۴ مخ


## ابن خلدون د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

په هېواد کې پر ځینو پوهنتونونو سربېره، په ترکیه کې له ابن خلدون پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړه لرل، هغه څه دي چې دا موسسه یې د خپلو محصلینو د وړتیا لوړولو په خاطر کوي.



کرنې وزارت:

## په هېواد کې د جوارو حاصلات پنځه برابره ډېر شوي دي



کرنې او مالدارۍ وزارت وایي چې له میکانېزه کرکیلې سره په هېواد کې د جوارو حاصلات پنځه برابره ډېر شوي دي.
د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي زیاتوي، دوی هڅه کوي چې له دې لارې بزگران وکړای شي چې له خپلو کروندو څخه ښه او باکیفیته حاصلات ترلاسه کړي چې له یوې خوا به د بزگرانو عواید ډېر شي او له بلې خوا به هېواد د کرکېلې له پلوه پر ځان بسیا شي.
په ورته مهال د کندز د دشت ارچي ولسوالۍ اوسېدونکی وحیدالله وایي چې له کلونو را په دې خوا یې په خپله کرونده کې د جوارو کرکېله په دودیزه بڼه ترسره کوله چې په وینا یې، زحمت یې زیات، خو حاصل یې په نشت حساب و.
کرنې وزارت وایي چې د دغه وزارت اړوند د اوبو د زېرمو د پانگونې پروژې «LKISP» له خوا سلگونه بزگران روزل شوي او په پام کې ده چې یاده پروژه وغځول شي.

وزارت تحصیلات عالی:

## به خاطر جلوگیری از موج دوم کرونا پوهنتون‌های کشور تعطیل می شود



وزارت تحصیلات عالی کشور اعلام کرده که براساس فیصله کابینه، تمامی نهادهای تحصیلات عالی کشور از هشتم قوس تا پانزدهم ماه حوت سال جاری به‌منظور جلوگیری از شیوع موج دوم کرونا، تعطیل می‌شود.
حامد عبیدی، سخنگوی وزارت تحصیلات عالی دیروز گفت که تعطیلی پوهنتون‌ها یک هفته پیش از سوی وزارت صحت به کابینه پیش‌نهاد شده بود و امروز تأیید شد.
آقای عبیدی گفته است که به‌خاطر جلوگیری از شیوع موج دوم کرونا، درس‌های حضوری پوهنتون‌ها تعطیل می‌شود و درس‌های آنلاین ادامه خواهد داشت.
سخنگوی وزارت تحصیلات عالی گفته که شش هفته از سمستری که در حال حاضر جریان دارد، باقی مانده است. به گفتهٔ او، محصلین در این شش هفته به‌گونهٔ غیرحضوری درس‌های‌شان را پی گیری خواهند کرد.
این در حالیست که وزارت صحت عامه از یک هفته به این‌سو از شیوع موج دوم کرونا در افغانستان هشدار داده است. سه روز پیش سرپرست وزارت صحت عامه گفت که شمار مراجعه‌کننده‌گان به شفاخانه‌های کشور ده برابر شده است.
در تازه‌ترین مورد، مسئولان صحی در هرات اعلام کرده‌اند که در شبانه‌روز گذشته، هفت تن در پی ابتلا به این بیماری جان داده‌اند.
این در حالیست که در این اواخر در بعضی از پوهنتون های کشور گزارش های مبتلا شدن محصلین به ویروس کرونا نیز پخش شده است.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# راکیټي بریدونه؛ وحشت او یو بد یاد

پرون د کابل ښار په بېلابېلو ملکي سیمو ۱۴ راکیټي بریدونه وشول چې پکې اته کسان شهیدان او ۳۱ نور ټپیان شول. برید د ښار له منځه په دوو موټرو کې د ځای پر ځای شوو راکیټونو په وسیله وشو. طالبانو په برید کې لاس لرل رد کړي او کومې بلې ډلې یې مسوولیت نه دی اخیستی.

پر کابل ښار دا راکیټي بریدونه یو وحشیانه او ظالمانه عمل و چې پکې ټول ملکي ځایونه په نښه شوي وو او مرگ ژوبله هم یوازې ملکي وگړو ته اوښتې ده. دغو راکیټونو خلک ووېرول، ځینې ښوونځي رخصت شول او ډېرو خلکو ته یې د ډاکټر نجیب د واکمنۍ پر مهال پر کابل ښار د ړندو راکیټونو د ویشتلو وخت ور یاد کړ. هغه وخت او بیا له هغه وروسته د تنظیمي جگړو پر مهال هم پر کابل ښار همداسې ړانده توغندي ورېدل چې پکې ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښته. دا بریدونه له هغو سره یو توپیر لري چې بریدگر معلوم وو او مسوولیت یې هم مانه، خو اوس د دغو بریدونو لاملین ورک دي، حکومت یې پړه پر طالبانو ور اچوي او طالبان ترې یو مخ انکار کوي. له دې سره دا وېره شته چې ښایي نورې تخریب کاره ډلې د دغو وحشیانه بریدونو تر شا وي او په دې سره وغواړي چې د خلکو ژوند تریخ کړي.

د بریدونو تر شا چې هر څوک وي، دومره ویلی شو چې وحشیان او ظالمان دي، خو دا هېڅکله د حکومت د ناکامۍ او کمزورۍ لپاره توجیه نه شي کېدلی. څنگه امکان لري چې داسې موټرونه چې په دومره ډېر شمېر توغندي پکې ځای پر ځای شوي وي او د کابل ښار تر مهمو سیمو راشي او له هغه ځایه دې بیا داسې بریدونه وکړي!؟ تر دې وړاندې هم داسې بریدونه شوي وو، ولې بیا بیا دغه ډول بریدونه کېږي؟ څنگه بریدکوونکي بیا بیا په ورته کار توانېږي؟ زموږ کشفي او استخباراتي اداري او بیا پولیس ولې د دغه ډول بریدونو مخه نه شي نیولی؟ دا او دې ته ورته پوښتنې شته چې لا ځواب شوې نه دي او پکار ده چې حکومت یې ځواب کړي. له بده مرغه حکومتي چارواکي په ډېرو کوچنیو مسایلو بوخت دي. زموږ د ولسمشر لومړی مرستیال د کوڅو د غلو او سړکونو په پاکولو بوخت دی. امنیتي ادارې مو د بې کفایته او کمزورو چارواکو له امله فلج شوې دي او ورځ تر بلې نوې او خونړۍ پېښې پکې کېږي. له دغو پېښو سره پر کابل ښاریانو د وېرې او وحشت یوه څپه خپره ده او همغسې یو احساس ورته پیدا شوی، لکه د نجیب د وروستیو کلونو پر مهال چې ورته پیدا شوی و. دا رښتیا هم بد احساس دی؛ ځکه چې له یوه اړخه وېره او وحشت دی او له بله اړخه د بد راتلونکي بوی ترې راځي. حکومتي چارواکو ته پکار ده چې له فساد او بې کفایتۍ را ووځي، د خلکو ژوند ته پام وکړي او پرې نه ږدي چې دا حکومت لا زیات د خلکو له سترگو وغورځي. پرونۍ حالت په هېڅ ډول د زغم وړ نه دی او که حکومت د دغسې بریدونو مخه هم ونه شي نیولی، نو بیا په رښتیا هم د نجیب د واکمنۍ د تکرار او بد راتلونکي وېره زیاته ده.

# د شانگهای همکارۍ سازمان سرمشریزه؛

## د چین او افغانستان د اړیکو د پرمختگ نوی څپرکی پرانیزي



لیکنه: وانگ یو
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

د شانگهای همکارۍ سازمان د غړیو هېوادونو د مشرانو شورا شلمه سرمشریزه غونډه څو ورځې مخکې د ویډیویي کنفرانس له لارې تر سره شوه. د دغه سازمان د غړیو هېوادونو مشرانو یوه گډه اعلامیه لاسلیک کړه او د کرونا وبا پر ضد د مبارزې، په انټرنېټ کې ((د دریو قواوو)) د ناوړه معلوماتو د مخنیوي او د نشه یي توکو د مخالفت په گډون ٦ نورې اعلامیې یې هم خپرې کړې او د همکاریو ځینې سندونه یې منظور کړل.

د چین د دولت رییس شي جین پینگ په یاده غونډه کې په دغه عنوان ((د شانگهای رویې په خپرولو سره خپلمنځي یووالی او همکارۍ پیاوړې کوو او د گډ برخلیک ټینگه ټولنه نوره هم ابادوو)) وینا وکړه. نوموړي د اروپا- اسیا او نړۍ په چارو کې د دغه سازمان مثبت رول وستایه او ویې ویل چې دغه سازمان د متقابل درناوي، مساواتو، عدالت او د گډو گټو همکاریو پر اساس نوې ډول نړیوالې اړیکې جوړې کړې او د کرونا وبا پر ضد نړیوالې مبارزې ته یې خوځنده ځواک ورکړی دی.

په داسې حال کې چې کرونا وبا په ټوله نړۍ کې خپره شوې او په نړیوالو حالاتو کې یې ستر بدلونونه رامنځ ته کړي. رییس شي جین پینگ د اوسنیو حالاتو او د دغه سازمان د انکشاف په نظر کې نیولو سره پر ((شانگهای رویې)) ټینگار کړی او په لومړي ځل یې د شانگهای همکارۍ سازمان په چوکاټ کې د ((څلورو گډو ټولنو)) د ابادولو مهم وړاندیز کړی دی.

هغه وویل:

لومړی؛ د کرونا وبا پر ضد د مبارزې په برخه کې دې خپلمنځي همکارۍ پیاوړې کړو او د طب او روغتیا گډه ټولنه دې جوړه کړو. کرونا وبا نړۍ کې لاهم په خپرېدو ده، نو نړیواله ټولنه باید د خلکو ژوند ته لومړیتوب ورکړي او د دې وبا پر وړاندې دې گډه مبارزه وکړي، څو د خلکو ژوند او روغتیا وساتل شي. رییس شي جین پینگ خپلو خبرو کې دې ته اشاره وکړه، چې ویروس سرحدات نه پېژني، نو وحدت او همکاري یې پر وړاندې تر ټولو ښه او اغېزمنه وسیله ده او د ژوند ژغورنه تر ټولو مهم کار دی، نو موږ دې د سیمې گډه وقایه او کنټرول پیاوړې کړو، د دغه سازمان د غړیو هېوادونو د ناروغۍ کنټرول د مرکزونو تر منځ ټلیفوني اړیکې دې وساتو، د دغه سازمان د دودیز طب فورم ته دې دوام ورکړو او چین به د دغه سازمان د غړیو هېوادونو د واکسین اړتیاوې په فکر کې ونیسي.

دویم؛ امنیت او ثبات دې وساتو او د امنیت گډه ټولنه دې اباده کړو. رییس شي جین پینگ په خپله وینا کې دې ته اشاره وکړه چې امنیت او ثبات د هېواد د پرمختگ مخکښ شرایط او د هېواد کلیدي گټې دي. بېلا بېل هېوادونه باید د گډ، جامع، همکاریز او تلپاتې امنیت نظریه غوره کړي، په اغېزمنه توگه دې له رنگارنگ گواښونو او ننگونو سره مقابله وکړي او د وبا د خپرېدو په وخت کې دې د ((دریو قواوو)) د ناوړو کړو وړو مخه ونیسي، څو سیمه ییز امنیتي چاپېریال وساتل شي. هغه دا هم وویل چې د افغانستان وضعیت د سیمې له امنیت او ثبات سره تړلی دی، نو اړوندې خواوې باید له ((د شانگهای همکارۍ سازمان-افغانستان د ارتباطو گروپ)) څخه ښه استفاده وکړي، څو په دغه هېواد کې سوله رامنځ ته او بیارغونه پیل شي.

دریيم؛ واقعي همکارۍ دې ژورې کړو او د پرمختگ گډه ټولنه دې جوړه کړو. رییس شي جین پینگ وویل چې گډ او پراخ انکشاف رښتینی انکشاف دی او پرله پسې انکشاف ښه انکشاف دی. بېلابېل هېوادونه باید د اختراعي، همغږیزه، شنه چاپېریال، ورخلاصون او گډ پرمختگ نظریه غوره کړي، واقعي همکارۍ دې پراخې کړي او اقتصادي بیا سمسورتیا او د ژوند ښه والی دې وهڅوي. بېلابېل هېوادونه باید د یو کمربند او یوې لارې د گډې ابادۍ وړاندیز د مختلفو هېوادونو له انکشافي ستراتیژیو او د اروپا او اسیا د اقتصادي اتحاد له سیمه ییز همکاریز وړاندیز سره پیوست کړي، متقابل پیوستون او ټرانسپورټ دې پیاوړی او د تولید بیا عادي کېدل دې چټک کړي او د متقابلې پانگونې پیمانه دې پراخه کړي. چین د شانگهای همکارۍ سازمان د ښوزلۍ کملو کاري گروپ له جوړولو څخه ملاتړ کوي او غواړي په دې برخه کې له اړوندو خواوو سره خپلې تجربې هم شریکې کړي.

څلورم؛ د خلکو د زړونو پیوستون دې وهڅوو او د بشر د کلتور گډه ټولنه دې جوړه کړو. رییس شي جین پینگ وویل، چې ټول تمدنونه مساوي حیثیت لري، خو خپلې ځانگړتیاوې لري. بېلابېل هېوادونه باید یو له بل څخه زده کړې وکړي، له خپلو گاونډیانو سره دې ټینگه دوستي وساتي او د دغه سازمان د راتلونکي اوږدمهاله پرمختگ لپاره د عامو افکارو بنسټ دې پیاوړی کړي. چین د دې ملاتړ کوي چې د شانگهای همکارۍ سازمان د ښوونې، کلتور، سیلانۍ، ورزش، خبري رسنیو او ښځینه چارو په برخو کې همکارۍ او تگ راتگ زیات کړي، په راتلونکي کال کې به د دغه سازمان د فولکلوریکي دوستۍ فورم جوړ کړي، د ځوانانو د تبادلې کمپ به جوړ کړي، په راتلونکو ۳ کلونو کې به د نظر تبادلې په پار د اړوندو هیوادونو ٦ سوو ځوانانو ته چین ته د تگ فرصت برابر کړي او د متقابلې پېژندنې او دوستۍ نوی نسل به وروزي.

رییس شي جین پینگ په خپله وینا کې د عمومي حالاتو او راتلونکي پرمختگ په نظر کې نیولو سره د شانگهای همکارۍ سازمان د یووالي او همکاریو د ژورتیا او د افغانستان په گډون د سیمه ییزو هېوادونو د ثابت پرمختگ لپاره د چین پلان وړاندې کړ، د بشر د گډ برخلیک ټولنې محتویات یې غني کړل او د دغه سازمان د پرمختگ لپاره یې نوې نقشه جوړه کړه، چې د سیمې او نړۍ پر سولې او پرمختگ به مهمه اغېزه وکړي او په یاده غونډه کې د نوموړي دغو خبرو د برخهوالو مشرانو ستاینې تر لاسه کړې. افغان ولسمشر محمد اشرف غني هم د ویډیویي کنفرانس له لارې په یاده غونډه کې گډون کړی و او د بېلابېلو هېوادونو تر منځ د همکاریو د ټینگښت په اړه یې د شانگهای له رویې سره موافقه وکړه. نوموړي په خپلو خبرو کې د چین ډېره ستاینه وکړه او ویې ویل چې چین د کرونا وبا په موده کې له افغانستان سره پیوستون او د خوراکي توکو متوازنه لړۍ ساتلې او د دغې وبا پر وړاندې د مبارزې په برخه کې یې له افغانستان سره ډېره مرسته کړې او هیله یې ښودلې چې د شانگهای همکارۍ له سازمان سره به په گډه د کرونا وبا د دویمې څپې مخه ونیسي. ولسمشر غني دا هم وویل چې افغانستان به د خپل جغرافیایي امتیاز له لارې د خپلو سرچینو استخراج او اقتصادي پرمختگ وهڅوي، افکاري تبادلې او متقابله متمدنه زده کړه به پر مخ بوځي او دغه راز نړیواله ټولنه باید په یووالي سره سوله، پرمختگ او همکارۍ وساتي او د ترهگرۍ پر ضد باید گډه مقابله وکړي.

چین او افغانستان دوستانه گاونډیان دي او دواړه هېوادونه له سل گونو کلونو راهیسې یو له بل سره مرستې کوي او په تاریخ کې یې یو پر بل هېڅ تېری نه دی کړی. چین او افغانستان د شانگهای همکارۍ سازمان په چوکاټ کې خپله دوستي او ښه گاونډیتوب او دوه اړخیزې اړیکې نورې هم ټینگې کړې دي.

رییس شي جین پینگ د چین د کمونېست گوند د ۱۹مې دورې مرکزي کمیټې په تېره ۵مه غونډه کې دا وړاندیز تایید کړ، چې چین به د لوړې کچې ورخلاصون وکړي او د گډې مشورې، ابادۍ او گټلو اصولو پر بنسټ به د گډو گټو همکاریو نوي حالات پرانیزي. تاریخ دا ښودلې چې نیک گاونډیتوب به د متقابل خنډ پر ځای، د گډو گټو همکاري به د صفر جمع لوبې ((Zero Sum Game)) پر ځای او څو اړخیزم به د یو اړخیزم پر ځای پاتې شي. چین به د شانگهای همکارۍ سازمان د مهم بنسټگر هېواد په توگه له بېلابېلو غړیو هېوادونو سره یو ځای د دې سرمشریزې غونډې گډې موافقې پلې کړي، په مداومه توگه به له شانگهای رویې سره د گډو گټو د ورخلاصون ستراتیژي غوره کړي، د دغه سازمان په چوکاټ کې به له افغانستان سره همکارۍ پیاوړې او په بېلابېلو ساحو کې به د همکاریو سویه لوړه کړي او د شانگهای همکارۍ سازمان د گډ برخلیک ټولنه به نوره هم اباده کړي.

# عراق ته د ملگرو ملتونو خبرداري؛

## نړیوال مسوولیت درک کړئ، د بندیانو د اعدام لړۍ ژر تر ژره ودروئ

د ملگرو ملتونو د بشري حقونو پلټونکو د عراق له حکومته غوښتي چې خپل نړیوال مسوولیتونه درک کړي او ژر تر ژره دې د بندیانو له اعدامولو لاس واخلي.

ملگرو ملتونو دا غوښتنه وروسته له هغې کړې چې د پلټنو په لړ کې دې پایلې ته رسېدلي چې لسگونه کسان په عراق کې د دوی په خبره، د غیر عادلانه محاکمو په لړ کې په اعدام محکوم او سزا پرې پلې شوې ده.



د ملگرو ملتونو د بشري حقونو د پلټونکو ډلې په یوه اعلامیه کې ویلي چې بندیان ډېرې وختونه له لومړنیو حقونو محروم شوي او د پوښتنو پر وخت د هغوی د ځورونې شکایتونه چا نه دي څېړلي.

ملگري ملتونه وایي، په عراق کې د غیر عادلانه محاکمو په پایله کې لسگونه کسان اعدام شوي دي. د دوی په خبره، له دې ډلې یې ښایي ۵۰ تنه د دوشنبې په ورځ اعدام شي.

د ملگرو ملتونو د بشري حقونو کمېشنرۍ سازمان ویلي چې د نومبر په ۱٦مه په یوه ورځ ۲۱ نور کسان هم اعدام شوي او تر هغه مخکې د رویټرز د راپور له مخې، په اکتوبر کې ۲۱ کسان د ناصریه په مرکزي زندان کې چې په الحوت محبس مشهوره دی، هم اعدام شوي وو.

د ملگرو ملتونو پلټونکو ویلي چې څلور زره بندیان په عراق کې د ترهگرۍ اړوند جرمونو په تړاو په اعدام محکوم شوي دي. که د دغو بندیانو د اعدام حکم لاسلیک شي، وېره یې شته چې یو ځل به په ټولو باندې سزا پلې شي.

په ورته وخت کې د عراق حکومت تر اوسه پورې د بشري حقونو د دغو پلټونکو د اعلامیې او غوښتنو په تړاو څه نه دي ویلي. تر دې وړاندې د ملگرو ملتونو د بشري حقونو د سازمان مشرې مېشل باچلېت تېره اونۍ په عراق کې د ۲۱ کسانو تر اعدام وروسته له عراقي حکومته وغوښتل چې پاتې اعدامونه دې بند کړي.

مېشل زیاته کړې وه چې دوی د عادلانه محکمې له اصولو د سرغړونې، د دفاع د ښو شرایطو د نشتوالي، په اعترافونو باندې له حده زیاتې اتکا او د پرله پسې ځورونو گنې ادعاوې ثبت کړې دي.

# اوباما بالاخره د اسامه د وژلو له رازونو پرده پورته کړه!

ژباړه: زمریالي اباسین

تازه د امریکا متحده ایالتونو پخواني ولسمشر بارک اوباما د "A Promised Land" یا «سپېڅلې خاوره» په نوم نوی کتاب له چاپه راووت.

په دې کتاب کې اوباما د خپلې ادارې پر مهال د کړو کارونو له ځینو هغو رازونو پرده پورته کړې، چې لوستل یې له ګټې خالي نه دي. په دې منځ کې موږ دلته د هغه د کتاب د ۲۷م څپرکي هغه واقعیتونه په لنډو ټکو ستاسو مخې ته ږدو، چې د القاعده د پخواني رهبر اسامه بن لادن د وژنې په اړه یې لیکلي دي:

د سپټمبر د نهمې او یوولسمې پېښې له نهمې کلیزې یوه ورځ مخکې، لیون پنېټا چې هغه مهال د سي ای اې رییس او مرستیال یې مایک مورل له ما سره د بېړنۍ لیدنې غوښتنه وکړه. ما هم چې د لیدنې او خبرو اترو په اړه د موضوع جدیت حس کړی و، دا وړاندیز مې ومانه او سمدستي سره کېناستو. لیون پنېټا په دې لیدنه کې راته وویل، لومړني معلومات ښيي چې د اسامه بن لادن د موندنې په اړه یې د غوټې خلاصولو اصلي تار موندلی دی. هغوی راته وویل چې د زرګونه ډوله اطلاعاتو د څېړنو په پایله کې جوته شوې چې د ابو احمد الکویټي په نوم د القاعده شبکې خبرلېږدوونکی یې پېژندلی دی، چې له اسامه بن لادن سره هم اړیکې لري. راته ویې ویل چې د هغه ټلیفوني اړیکې او نور ارتباطي چینلونه یې څارلي او په پایله کې یې د پاکستان له شمالي څنډو په ۳۵ کیلومتري واټن کې یې په ایبټ اباد ښار کې یو کور تشخیص کړی دی. د لیون پنېټا په وینا، د کور لویوالی او جوړښت ښيي چې کوم مهم کس یا د القاعده شبکې کوم مهم غړی پکې اوسېږي. پنېټا زیاته کړه چې هغوی د کشفي وسایلو ځای پر ځای کولو سره دغه مشکوک کور تر څار لاندې لري او نوې موندنې به له ما سره شریکوي.

کله چې هغوی لاړل، ما له ځان سره فکر وکړ چې ښايي په دې کور کې یو مهم کس واوسي او ان د القاعده شبکې کوم لوړپوړی مشر او یا د بن لادن کوم خاص کس به وي.

د ډسمبر په ۱۴مه لیون پنېټا او مایک مولن بیا راغلل او دا ځل یې د سي ای اې یو افسر هم له ځان سره راوستی و. دغه افسر د سي ای اې له ترهګرۍ سره د مبارزې برخې رییس او د بن لادن د پلټنې ټیم آمر و. هغوی د پلټنې د بهیر او ایبټ اباد کې د کور ارزونې د څرګنوالي په اړه معلومات راکړل. شیخ ابو احمد الکویټي دغه کور په یو مستعار نوم اخیستی و چې دېوالونه یې لوړ او اته چنده له ورته څېرمه کورونو لوی و. له دې کور سره هېڅ ټلیفون او یا انټرنټ نه و نښلول شوی او پکې استوګن کسان یې هېڅ له کوره نه وتل او د کور کثافات یې سوځول؛ خو هغه ماشومان چې پکې وو، د شمېر او عمر له مخې یې د بن لادن د کورنۍ له معلوماتو سره اړخ لګاوه. پنېټا وویل چې زموږ د څارګرو وسایلو پر بنسټ د مونډل شویو اطلاعاتو مونډنې دا دي چې په دې کور کې یو سړی اوسېږي چې جیګه ونه لري او هېڅکله له کوره بهر نه وځي؛ خو تل یو څېرمه باغ کې پلی ګرځي. له موږ سره په دې ناسته کې د سي ای اې حاضر افسر پر دغه لوړ سړي د قدم وهونکي نوم ایښی و او په ځیرکتیا سره یې راته وویل چې فکر کوي دا سړی بن لادن دی.

له ما سره ډېرې پوښتنې وې، خو تر ټولو مهمه یې دا وه چې داسې څه باید وکړو څو ډاډ تر لاسه کړو، چې دا سړی بن لادن دی او که نه؟ د سي ای اې افسر راته وویل چې هیله مند نه دی چې د دې سړي د پېژندنې په اړه دې کومه غوره لار موجوده وي. ما له هغه پوښتنه وکړه چې د دغه سړي په اړه ستا پرېکړه څه ده؟ هغه راته وویل چې په ډېر ګومان ښايي دا سړی بن لادن وي؛ خو سل په سلو کې ډاډه نه دی. د سي ای اې د دغو اطلاعاتو له مخې چې دوی راکړل، پرېکړه مې وکړه چې دا معلومات پر دغه کور د برید کولو لپاره بسنه کوي. په داسې حال کې چې سي ای اې د دغه لوړ سړي د پېژندنې په اړه کار کاوه، ما له ټام ډونلین او جان برېنن غوښتنه وکړه چې پر دغه کور د ناڅاپي برید په اړه څېړنه وکړي. د موضوع د حساسیت په درک کولو سره د دې امکان و چې دغه تاریخي فرصت له لاسه ووځي. پر دغه کور د برید په اړه د امریکا د دولت څو ګوتې په شمار کسان خبر وو. موږ یو بل محدودیت هم درلود چې هغه د پاکستان نه خبرول وو. پرېکړه مو وکړه چې د دغو عملیاتو په اړه پاکستانی لوری خبر نه کړو. د دې تر څنګ چې پاکستان له موږ سره په افغانستان کې د ترهګرۍ پر ضد مبارزه کې مرسته کوله، خو د دغه هېواد استخباراتي سازمان (ای اېس ای) له طالبانو او ان القاعده شبکې سره اړیکې درلودې او ځینې وخت به یې له هغوی د افغانستان د حکومت د کمزوري ساتلو په برخه کې د خپلو موخو تر لاسه کولو لپاره کار اخیست. په واقعیت کې ایبټ اباد د پاکستان له یو پوځي کمپ سره یوازې څو کیلومتره واټن درلود او که مو په دې اړه هر ډول معلومات له پاکستان سره شریک کړي وای، زموږ عملیات یې خنثی کول.

موږ دوه انتخابونه درلودل. لومړی دا چې پر دغه کور راکټ وتوغوو؛ خو څو ملاحظې مو درلودې. که مو دا کور په توغوندي ویشتی وای، څنګه به پوه شوي وای چې بن لادن هلته و؟ که القاعدې د بن لادن وژنه رد کړې وای، موږ په دې اړه څنګه وضاحت ورکاوه؟ دغه راز په دې کور کې پنځو ښځو او شلو ماشومانو ژوند کاوه. که مو دغه کور په توغوندي ویشتلی وای، ورته څېرمه څو نور کورونه هم نړېدل. په دې ناسته کې مې د لوی درستیز مرستیال ته وویل چې زه د موشکي بریدونو اجازه نه ورکوم، ځکه چې له امله به یې دېرش یا ښايي له هغې هم ډېر کسان ووژل شي او په پای کې به دا ډاډ هم نه وي موجود چې بن لادن هلته و که نه. دویم غوراوی د ځانګړو عملیاتو تر سره کول و چې باید د ځانګړو ځواکونو یوه ډلګۍ د هلیکپټرو په وسیله هلته تللې وای او د پاکستان د امنیتي ځواکونو له رسېدو مخکې یې عملیات پای ته رسولي وای. دا عملیات چې خورا پېچلي وو، په اړه یې د امریکا دفاع وزارت د ځانګړو عملیاتو قوماندان مکرفان تشریحات راکړل. مکرفان واقعاً یو تکړه او تجربه لرونکی جنرال دی او د دغو ځانګړو عملیاتو په اړه یې تخصصي پلان جوړ کړ.

د مارچ په نیمایي کې مکرفان د دغو ځانګړو عملیاتو پلان بشپړ او راته تشریح یې کړ او وې ویل چې د بحري ځواکونو یوه ځانګړې ډلګۍ به نیمه شپه د افغانستان له جلال اباد ښار په یوې یا دوو هلیکپټرو کې ایبټ اباد ته ځان ورسوي او د دغه کور انګړ ته به راښکته شي. په لومړي ګام کې به ټولې دروازې او کړکۍ تر پوښښ لاندې راولي، ورپسې به خونو ته ورننوځي او بن لادن به یا ژوندی نیسي یا به یې وژني او ژوندی یا مړی به یې له ځان سره جلال اباد ته وړي.

دوي اونۍ وروسته د مارچ په ۲۹مه، موږ بیا د سپیني ماڼۍ د ځانګړو ناستو په خونه کې سره راټول شوو او مکرفان ډاډ راکړ چې عملیات په بریالیتوب پای ته رسولی شو او له دې مخکې چې پاکستاني ځواکونه سیمې ته ورسېږي، زموږ ځانګړې عملیاتي ډلګۍ به ځان وباسي. موږ د هر ډول ممکنو شرایطو په اړه ارزونه وکړه. که پاکستاني ځواکونه لاسوهنه وکړي، یا د تګ او راتګ پر مهال زموږ هلیکپټر په نښه کړي او یا عملیات له ټاکلي وخت ډېر وغځېږي، څه باید وکړو؟ مکرفان روښانه کړه، که پاکستاني ځواکونه سیمې ته ورسېږي یا د مخنیوي هڅه وکړي، زموږ ډلګۍ به کور تر خپل کنټرول لاندې ولري او ډیپلوماټان به هم سمدستي یوه حللاره پیدا کړي. مخکې له دې چې ناسته پای ته ورسوو، یو بل غوراوی هم اضافه شو او هغه دا چې کله هغه لوړ سړی په باغچه کې ګرځېده یو ۱۳ پونډه راکټ به پرې وتوغوو. د هرې ورځې په تېرېدو سره لا ډېر کسان د عملیاتو د طرحې په اړه خبرېدل. بالاخره مکرفان راته وویل چې د عملیاتو په اړه وروستۍ پرېکړه کوی که نه، خو ما ورته وویل چې زه لا چمتو نه یم او له دریو غوراویو د یوه په اړه د پرېکړې په اړه باید فکر وکړم.

مکرفان د دې لپاره چې د عملیاتو پلان سري او پټ وساتي، ټول تدابیر یې په پام کې نیول او د دې لپاره چې څوک پوه نشي، په ټولو رسمي او غیررسمي ناستو او غونډو کې به یې برخه اخیستله. بله ورځ د ځانګړې وضعیت خونې ته ولاړم او د وروستي ځل لپاره مې د ځانګړو عملیاتو پلان له سترګو تېر کړ. مکرفان ته مې امر ورکړ چې افغانستان کې ځانګړي ځواکونه چمتو کړي.

ځانګړي ځواکونه جلال اباد کې په تیارسي حالت د عملیاتو تر سره کولو وروستي امر ته په تمه وو. د دې لپاره چې اطلاعات لا دقیق شي، لیون پنېټا او مرستیال یې د سي ای اې د ترهګرۍ پر ضد مبارزې له رییس وپوښتل چې څومره ډاډه دی چې هغه لوړ سړی بن لادن دی؟ د ترهګرۍ پر ضد د مبارزې رییس ځواب ورکړ چې له څلوېښت تر شپېته سلنې. ما مکرفان ته وویل چې دا پنځوس پنځوس موضوع ده، خو باید بیره وکړو. مکرفان د خپل ټیم د بشپړ چمتووالي ډاډ راکړ او بل ټیم هم خبر راکړ چې ۱۳ پونډه موشک توغولو ته چمتووالي نیول شوی او د ولسمشر امر ته په تمه دي.

د وروستي ځل لپاره مې د ناستې له غړیو وپوښتل چې د دوی په نظر کوم غوراوی به ښه وي، د ځانګړو عملیاتو تر سره کول که موشکي برید؟ لیون پنېټا، مرستیال یې او ځینو نورو د ځانګړو عملیاتو غوراوی غوره وباله، خو هېلري کلنټن د عملیاتو د پایلو په اړه ډېره اندېښمنه وه چې وروسته یې د ځانګړو عملیاتو په اړه سلا وکړه. ما د ځانګړو عملیاتو د مخالفو کسانو لیدلوري هم واخیستل او ورته ومې ویل چې سبا به وروستۍ پرېکړه وکړم. د اپرېل په ۲۹مه مې خپله وروستۍ پرېکړه په رسمي ډول له مکرفان سره شریکه کړه او امر مې ورکړ چې د ځانګړو عملیاتو تر سره کولو بشپړ واک لري او وروستۍ پرېکړه باید خپله وکړي. له دې پرېکړې وروسته مکرفان ډېر کارونه وکړل او وضعیت یې هغو ته چې خبر نه وو، عادي وښود. د همدې ورځې په پای کې مې له مکرفان سره اړیکه ونیوله او راته وې ویل چې پاکستان کې د هوا ناوړه حالت په کتو سره عملیات تر یکشنبې شپې ځنډوي؛ خو ټول اړین چمتووالی نیول شوی او د ځانګړو ځواکونو عملیاتي ډلګۍ هم په تیارسي حالت کې ده.

د سبا ورځې په سهار مخکې له دې چې د سپیني ماڼۍ سهارنۍ زنګ وکړنګیږي، له خپله ځایه پورته شوم او د وېسټ وینګ پروګرامونه مې لغوه کړل؛ ځکه چې په دې ورځ تر هغو مهمې ناستې تر سره کېدونکې وې. په پاکستان کې د شپې تر تیارې خورېدو پورې مې ځینې نور کارونه وکړل، خو ځانګړې خونې ته دې ستنېدو پر مهال مې د عملیاتو په پلان کې ښکېل لوړپوړي چارواکي ولیدل چې وار له مخه هلته رسېدلي وو. ټام ته مې وویل چې کله هلیکپټرو الوتنه وکړه، خبر راکړه. د واشنګټن په وخت له غرمې وروسته دوې بجې، دوو هلیکپټرو د ۲۳ ځانګړو ځواکونو جنګیالیو او د سي ای اې یو پاکستاني الاصله امریکایي ژباړن او یو پوځي سپي سره یو ځای له جلال اباد د ایبټ اباد پر لور حرکت وکړ. هغوی نوي دقیقو کې د پاکستان ایبټ اباد ښار ته رسېدل. زه له خپلې کاري خونې د ځانګړې وضعیت خونې ته ولاړم او دغې خونې دا مهال په بشپړه توګه د جګړې څېره خپله کړې وه. لیون پنېټا د ویډیو کنفرانس له لارې له مکرفان سره چې جلال اباد کې یې د عملیاتو قومانده پر غاړه درلوده، په خبرو بوخت و. په دې خونه کې جو بایډن، هېلري کلنټن، پنېټا، مایک، ګېټس، مولن او د ملي امنیت ځینې نور مهم غړي حاضر وو. له عملیاتو وروسته د پلان په اړه مې معلومات تر لاسه کړل. په پام کې وه چې د عملیاتو د بریا یا ناکامۍ په صورت کې له پاکستان او د نړۍ له نورو هېوادونو سره اړیکې ونیسم.

پلان داسې و چې که بن لادن ووژل شي، مړی یې باید بحر ته وغورځول شي او افراطي اسلامپالو ته د یو زیارت له جوړولو مخنیوی وشي. په داسې حال کې چې اندېښمن هم وم، د ځانګړې وضعیت له خونې ووتلم، خو شاوخوا درې نیمې بجې لیون پنېټا خبر راکړ چې هلیکپټرې سیمې ته نږدې شوې دي. پلان داسې و چې ما باید په غیر مستقیمه توګه د پنېټا لخوا د عملیاتو په اړه معلومات تر لاسه کړې وای، ځکه چې له مکرفان سره زما مستقیمه اړیکه د دې لامل کېده چې ټول مسایل زما امر ته په تمه شي او دا له سیاسي لحاظه یو ناوړه کار او بیا ستونزه جوړېده. دا مې په ژوند کې لومړۍ ورځ وه چې ځانګړي عملیات په ژوندۍ بڼه ګورم. په دې وخت کې مکرفان ناڅاپي غږ وکړ چې یو هلیکپټر د همدې کور له دېوال سره ټکر وکړ. د دې خبرې په اورېدو مې مغزو کې الکتریکي شاکونه حس کړل. سمدستي مکرفان بیا غږ وکړ چې هر څه به سم شي او تجربه لرونکی پیلوټ به هلکوپټر په خوندي ډول کېنوي.

بالاخره عملیات پیل شول او ما یې د ویډیو له لارې په ژوندۍ بڼه ننداره کوله. ومې لیدل چې د ځانګړو عملیاتو ډلګۍ په شلو دقیقو کې څه ډول د کور په هره خونه ورننوځي او بالاخره هغه عملیات چې څو میاشتې یې د پلان په جوړولو کار شوی و او کلونه کلونه یې د هغو په اړه اطلاعات راټول کړي وو او هغه څه چې ما یې په بې صبرانه ډول د بریالیتوب خبر اورېدو ته شېبې شمارلې، چې لیون پنېټا په لوړ غږ وویل "جیرونیمو" ووژل شو. یانې دښمن ووژل شو! (په دې عملیاتو کې اسامه بن لادن ته د جیرونیمو مستعار نوم ټاکل شوی و)

د دې خبرې په اورېدو سره مې د سپټمبر د نهمې او یوولسمې د بریدونو تصویرونه ذهن ته راغلل او له ځان سره مې وویل، هغه کس مو له پښو وغورځاوه چې زرګونه امریکایان یې وژلي وو.

د عملیاتو د شلو دقیقو په اوږدو کې د ځانګړې وضعیت خونه کې د ناستو کسانو له ډلې یوه هم له خپله ځایه ټکان نه خوړ او په ایبټ اباد کې په هغه کور کې ځانګړو ځواکونو د بن لادن مړی په توره کځوړه کې تاو کېښود، درې ښځې او نهه ماشومان یې په خوندي ډول وپلټل، کمپیوټرونه، اسناد او نور وسایل یې راټول کړل، چاودېدونکي توکي یې چې په هلیکوپټر کې ور سره پراته وو، ځای پر ځای کړل، څو چاودنه ورکړي او بل هلیکوپټر چې د دوی د لېږدولو لپاره چمتو و، له سیمې پورته شو او حرکت یې وکړ. ورپسې جو بایډن خپل لاسونه زما پر اوږه کېښودل او راته وویل، چې مبارک دې شه رییسه! په خونه کې ټول حاضر ټیم ته مې لاسونه ورکړل، خو که رښتیا ووایم، تر هغو چې زموږ الوتکې د پاکستان په اسمان کې وې، له دننه اندېښمن وم. شپږ بجې وې چې هلیکوپټر جلال اباد ته ورسېد او ما هم د ارامۍ ساه واخیسته. وروسته له مکرفان سره د ویډیو کنفرانس له لارې غږېدم، راته ویل یې چې هغه د بن لادن مړي ته ځیر دی څو ډاډه شي چې وژل شوی دی. د سي ای اې اړوند د څېرې تشخیص وسیلې هم تایید کړه چې مړی د بن لادن دی. د لا تصدیق په موخه مکرفان خپل دوه سرتېري چې شپږ فوټه ونې یې درلودې، د مړي تر څنګ څملول څو ډاډ تر لاسه شي چې مړی د بن لادن دی او د قد اندازه چې مخکې روښانه وه، هم جوته شي. په دې وخت کې خندا راغله مکرفان ته مې په ټوکو کې وویل چې له دې ټول چمتووالي سربېره دې له ځان سره یو متر نه و وړی چې د بن لادن قد پرې اندازه کړې؟

وروسته پنېټا او مکرفان وویل چې د بشپړ ډاډ تر لاسه کولو لپاره باید د مړي ډي ان اې چک کړي، څو جوته شي چې مړی د بن لادن دی، خو دې کار یوه یا دوې ورځې وخت نیوه.


د اسامه بن لادن له وژل کېدو وروسته اوباما د پاکستان او نورو هېوادونو له رهبرانو د خبر، د اسامه د وژنې په اړه ځانګړې وینا، مکرفان او د خاصو ځواکونو له عملیاتي ټیم سره د لیدو او ځینو نورو ترلو مسایلو په اړه په څرګندونو کې د خپل کتاب دا څپرکی رانغاړي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◉ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◉ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه
### د نړۍ دویم تر ټولو زور مسلک




سېنها: حتی اوس هم کمې نه دي.
دولت: خو موخه یې څه وه، معلومات نه لرې؟
دوراني: د دې لپاره چې را ته کار وکړي.ټولې استخباراتي ادارې په دې باور دي چې رسنۍ باید د رواني جگړې لپاره تمویل شي. لکه ما چې وویل CIA په نړۍ کې درېیم نمبر استخباراتي سازمان دی، یاده اداره په دې برخه کې تر ټولو مخکې ده او هڅه کوي چې پر رسنیو کنټرول ولري. هغوی ژورنالېستان پر مهمو موضوعاتو بوخت ساتي لکه د پاکستان ضد دریځ نیونه یا د ملکي اټومي پروگرام گټې. کله چې یوه رسنۍ مشهوره او با اعتباره شوه، نو استخبارات بیا اساسي موخې په نښه کوي: مایکرو منجښگ، نڅاوې، د پردې تر شا مدیریت، د پوښښ د ډول رهبري کول او نور. موږ په دې ډگر کې بریالي نه یو. امریکایان او برېټانویان په دې برخه کې ډېر مخکې دي. د ذهنیتونو جوړول، د جگړې لپاره د چاپېریال جوړول او نور، دا هرڅه د میډیا په مرسته کوي.
سېنها: ولې ISI ونه شوای کولای چې یو هندي چاینل سپانسر کړي؟
دوراني: زما په اند زموږ یو لومړی وزیر او د ملي امنیت شورا سلاکار دې پایلې ته رسېدلي وو چې په هند کې پر رسنیو پانگونه او د ذهنیت مدیریت یوه ښه نظریه ده. دا چې هغوی په دې کار کې بریالي شول که نه، معلومات نه لرم. استخبارات څومره په دې برخه کې فعال دي، اجازه راکړه چې یوه بېلگه یې درته ووایم. یوه ورځ په لاهور کې په (نېشن) ورځپاڼه کې د هندو او سېک دواړو نومونو باندې یوه لیکنه خپره شوه. ما چې ولیده، نو پوه شوم چې دا لیکنه د ISI له یوه غړي پرته بل څوک نه شي لیکلی. د رسنۍ اېډیټر حتی دومره زحمت نه و ایستلی چې د لیکنې په ژبه کې لږ گوتې ووهي او له هندي لهجې سره یې برابره کړي. زه له تاسو منندوی یم چې ومو نه ویل چې دا ډول کارونه یوازې تاسو احمقان کوی، راشئ او له موږ نه یې زده کړئ. هاهاها.


### ٦
### CIA او نور سازمانونه

دوراني: زه هېڅکله د CIA ارزونې معتبرې نه گڼم. هېڅکله. هغوی اصلاً د ښو ارزونو په ترسره کولو باور نه لري؛ ځکه چې هغوی په هر صورت غواړي چې سیمه تر اور لاندې ونیسي. بمبار یې کړي. هغوی تر ډېره پر ټکنالوژۍ تکیه کوي.ټکنالوژي یوه اسانتیا ده، څارگریزې ارزونې باید د انسانانو په وسیله وشي. لکه د هند اټومي ازمایښتونه. زه فکر نه کوم چې CIA به خبره وه. خو په هر حال د هغوی استخبارات یې په موندنه کې پاتې راغلي وو. رابرټ گېټس د ۱۹۹۰ کال په مې میاشت کې د همدې خبرې لپاره هند او پاکستان ته سفرونه وکړل. د همدې کال په لومړیو کې په کشمیر کې د پاڅون پر مهال هند خپله یوه برخه پوځ له پاکستان سره پر پوله ځای پر ځای کړی و. د ISI ارزونه دا وه چې هند د جگړې نیت نه درلود، ځکه چې لازم تیاری نه و نیول شوی او اساسي وسایل په پوځي قرارگاوو کې پاتې وو. د هند حکومت یوازې غوښتل چې ملت ته خپل جدیت وښیي. موږ خپل سوله ییز دریځ وساته. موږ سمه پرېکړه کړې وه. امریکا د هندي پوځ خوځښتونه لیدل او زموږ د اډو په لور د سترو وسایطو حرکتونه چې توغندي پکې ځای پر ځای شوي وو. خو گېټس سترگې نه لرلې چې د یوې احتمالي اټومي جگړې مخه ونیسي. اساسي خبره دا ده چې که چېرته د انساني استخباراتو برخې ته راشو، نو ویلی شم چې CIA په دې برخه کې کمزورې ده. ما مخکې هم یادونه وکړه چې امریکا د خلیج په دواړو جگړو کې څومره تېروتې وه. هغوی د خپلې نیمگړتیا د پټولو لپاره ملامتي پر پوځ اچوله.
سېنها: تاسو وویل چې د برېټانیا په جوړښت کې MI٦ تحلیل او ارزونه نه کوي.
اې اېس دولت: هو نه یې کوي. خو زه غواړم چې په استخباراتو کې د انساني معلوماتو پر ارزښت خبرې وکړم. تاسو خلکو ته اړتیا لرئ چې کار درته وکړي. مثلاً، که د حزب المجاهدین په اړه یوازې د مکالمو په اورېدو باندې تکیه کېږي، کېدای شي تر ډېره ناسم معلومات ترلاسه کړی. ځینې محدودیتونه شته چې په تخنیکي ډول د معلوماتو په ترلاسه کولو کې له ستونزې سره مخ کېږې. په هغه صورت کې چې دښمن پوهېږي. دښمن پوهېږي او کولای شي چې همدا معلومات بېرته ستا خلاف وکاروي.CIA، KGB او موساد؛ دا ډېر ستر نومونه دي، خو زه له جنرال صېب سره موافق یم چې د CIA ارزونې تل سمې او کره نه وي. دا کار سړی له وسوسې سره مخ کوي او دې ته یې هڅوي چې سملاسي قضاوت وکړي او راپور چمتو کړي. دا د اطلاعاتو راټولولو هغه لار نه ده چې استخبارات یې کاروي. د بېلگې په توگه: د ۱۹۸۰ کال په فبرورۍ کې له نیپال څخه مې د تگ شپې وې. په هند کې تازه ټاکنې شوې وې او اکثریت د اغلې گاندي په برخه شوی و. تر ټاکنو مخکې په کټمنډو کې د CIA ځینو غړو راته وویل، دوی باوري دي چې بابو جگجیوان رام به د هند راتلونکی لومړی وزیر وي. یوه یې راسره شرط هم تړلی و. ما وویل، نه، اغلې گاندي به بیا راځي. که څه هم زه له څلورو کلونو راهیسې په هند کې نه یم، خو ویلی شم چې همداسې به کېږي. هغوی ناسم اټکل کړی و.KGB سخت کار کوي، خو خامیانې هم لري او ډېره مسلکي نه ده. د KGB غړي په بېلابېلو هېوادونو له ستونزو سره مخ شوي دي. خلک وایي چې موساد ډېره مسلکي ده، خو زه ډېر نه پوهېږم. ښه سازمان دی او تر ډېره له خپلې اجنډا سره پرمخ ځي. که څه هم ادعا کول ستونزمن دي، خو موساد زیاتره مخکښ مشران لرلي دي.

**دوام لري...**

# ابن خلدون د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



د ابن خلدون د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په ۱۳۹۵ کال کې د لوړو زده کړو له وزارت څخه د فعالیت جواز تر لاسه کړی، خو د ځینو ستونزو له کبله یې رسمي چارې په ۱۳۹٦ کال کې پیل کړې دي. د دې موسسې علمي مرستیال او سرپرست رییس نثار احمد حنیفي وایي، چې ابن خلدون د لوړو زده کړو خصوصي موسسه له هماغه لومړي سره تر اوسه پورې دوه پوهنځي (اقتصاد او حقوق او سیاسي علوم) لري. د ښاغلي حنیفي په خبره، حقوقو پوهنځی یې دوه دېپارټمنټونه (اداره او ډیپلوماسي او قضا او څارنوالي) لري. دا چې د لوړو زده کړو د دې موسسې د اقتصاد پوهنځی کوم کوم دېپارټمنټونه لري، ښاغلي نثار احمد حنیفي یې په اړه څه ونه ویل. ابن خلدون د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال د ۵۵۰ په شاوخوا کې محصلین لري چې د دې موسسې په دوو فعالو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي. د نوموړي په خبره، د محصلینو ٦۵ سلنه یې نارینه او پاتې ۳۵ سلنه یې بیا ښځینه محصلین دي.

د ابن خلدون د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، چې دوی په کلنې ډول د درې سوه نویو محصلینو د جذب وړتیا لري، چې سږ کال یې هم د کانکور ازموینې له لارې ۳۰۰ نوي محصلین خپلو دوو پوهنځیو ته جذب کړي دي. ښاغلی نثار احمد حنیفي وایي، د ابن خلدون د لوړو زده کړو موسسې هدف تجارت او گټه کول نه دي، بلکې یوازې غواړي هغو کسانو ته د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي، چې دولتي پوهنتونونو ته نه شي بریالي کېدای او یا هم غواړي له شته زده کړو سره سره بل پوهنځی هم ولولي او لوړې زده کړې وکړي. دی وایي، ابن خلدون د لوړو زده کړو موسسه د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو په منځ کې یوازینۍ هغه ده چې تر نورو لږ فیس اخلي. دی وایي چې دوی بېوزله کسانو، د شهیدانو او معلولینو د کورنۍ د غړو لپاره ځانگړی تخفیف په پام کې لري، څو وکولای شي دوی هم لوړې زده کړې وکړي. نثار احمد حنیفي وایي، دوی د دې برخې لپاره ځانگړې کمېټه لري چې نوي راغلي محصلین ارزیابي کوي او تر هغه وروسته مناسب تخفیف ورکوي. د دې تر څنگ، ابن خلدون د لوړو زده کړو خصوصي موسسه له ځینو دولتي ادارو سره ځینې هوکړې لري، چې له مخې یې د دې ادارې لخوا دوی ته کسان ور پېژندل کېږي چې ځینې یې وړیا او ځینې یې هم په ډېر لږ فیس سره اړوند پوهنځي ته جذبېږي. د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د ورځې په اوږدو کې درې وخته تدریس کېږي او محصلین د زده کړو لپاره ورته حاضرېږي.

په ابن خلدون د لوړو ز ده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۵۵ په شاوخوا کې استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي. د دې موسسې سرپرست رییس وایي چې ۹۹ سلنه استادان یې د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او د تدریس په برخه کې له کافي تجربې څخه برخمن دي. دی وایي، د استادانو د علمي سویې د لوړولو پروگرام هم لري. د حنیفي په خبره، همدا سږ کال یې غوښتل خپل پنځه استادان له هېواده بهر د دوکتورا اخیستو لپاره واستوي، چې له بده مرغه د کرونا ناروغۍ په راتلو سره دغه پروگرام وځنډېد. نثار احمد حنیفي زیاتوي چې د دغه لگښت یوه زیاته برخه خپله د موسسې اداره پر غاړه اخلي. د دې تر څنگ، د ابن خلدون د لوړو زده کړو موسسې اداره غواړي چې د خپلو هغو استادانو لپاره چې د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري، د ماسترۍ زمینه ورته برابره کړي. ښاغلی نثار احمد حنیفي وایي چې د پنځوسو استادانو له ډلې اته تنه یې ښځینه استادانې دي چې هغوی هم د تدریس په برخه کې له ښې تجربې برخمنې دي او په خپل مسلک کې رسېدلې دي.

د لوړو زده کړو دې موسسې د خپلو محصلینو لپاره د مجهز کتابتون او کمپیوټر لب امکانات هم برابر کړي دي. د ښاغلي نثار احمد حنیفي په خبره، په کتابتون کې د ۲۰۰۰ په شاوخوا کې د حقوقي او سیاسي علومو او اقتصاد اړوند او تر څنگ یې د آزادې مطالعې لپاره بېلابېل کتابونه لري. دی وایي، دا چې موسسې یې نوی پر فعالیت پیل کړی دی، نو هغه ډول چې لازمه ده کتابتون یې غني نه دی، خو هڅه به یې دا وي چې کتابتون ورځې تر بلې غني کړي او ډېر کتابونه پکې ځای پر ځای کړي، څو یې محصلین وکولای شي په ښه ډول اړوند کتابونو ته لاسرسی ولري. دی وایي، اړوند ادارو او بنسټونو ته یې غوښتنلیکونه سپارلي، څو د کتابتون په غني کولو کې ور سره مرسته وکړي.

ښاغلی نثار احمد حنیفي د موسسې نوي والي ته په کتو خوښي ښيي چې د افغانستان له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري او هڅه یې دا ده چې له ځینو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې هم ولري. دی وایي چې غواړي د سیمې په کچه هم له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره اړیکې او هوکړې ولري، چې په دې برخه کې به یې لومړی گام په ترکیه کې له ابن خلدون پوهنتون سره د علمي اړیکو د هوکړې لاسلیک کول وي، چې خپل فارغ شوي محصلین د لا نورو لوړو زده کړو لپاره دغه هېواد ته ولېږي، څو یې محصلین هم په کابل کې او هم په ترکیه کې د ابن خلدون له پوهنتونونو څخه تحصیلي سندونه ولري.

پر کتابتون او کمپیوټر لب سربېره، ابن خلدون د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د وړتیاوو لوړولو لپاره فرهنگي، روزنیزې، د ژبې د پیاوړتیا ټولگې، د ریاضي زده کړې ټولگې، د اسلام پېژندنې ټولگې او د سیرت نبوي ټولگې هم لري.

د افغانستان د خلکو لپاره په ځانگړې توگه د ځوان نسل لپاره په ملي او نړیواله کچه د زده کړو د امکاناتو برابرول، د پوهنځیو او دېپارټمنټونو زیاتول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول او د ماسترۍ پروگرام پیلول د ابن خلدون د لوړو زده کړو موسسې راتلونکې پلانونه دي.

ښاغلی نثار احمد حنیفي وایي چې له افغان دولت او په ځانگړې توگه لوړو زده کړو وزارت څخه ډېرې غوښتنې لري او په دې برخه کې له ډېرو ستونزو سره مخ دي، چې ښه بېلگه یې له خصوصي پوهنتونونو څخه نه ملاتړ دی. دی وایي، د دې پر ځای چې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو ملاتړ وکړي او د پرمختگ زمینه ورته برابره کړي، لا یې په مخ کې خنډونه جوړوي، چې ښه بېلگه یې د سختو قوانینو جوړول او درنه مالیه اخیستل دي. دی له افغان حکومت څخه غواړي، هغه دولتي ځمکې چې هوټلونو او نورو برخو ته په واک کې ورکول کېږي، باید هغه خصوصي سکټور ته په واک کې ورکړل شي چې د لوړو زده کړو په برخه کې یې پانگونه کړې ده، څو په دې ډول سره د یوه دایمي ځای څښتنان شي او له بلې خوا دولت ته هم یو څه گټه ورسېږي.

# د شپږ نیمو د جلسې له دوام سره؛

## په کابل کې راکیټي بریدونو اته ملکیان وژلي او ۳۱ نور یې ټپیان کړي دي



په کابل ښار کې د نا امنیو په دوام، وسله والو ډلو له نوي تخنیک په ښار کې د بې نظمیو او خپلو بریدونو د دوام لپاره کار اخیستی دی. دا درېیم ځل دی چې په کابل ښار کې له موټرونو په استفادې راکیټي بریدونه کېږي، خو لومړی ځل دی چې په دغه پېښه کې ملکي وګړو ته درنه مرګ ژوبله اوړي.
تېره ورځ شاوخوا اته نیمې بجې په کابل ښار کې په بېلو برخو راکېټونه لګېدلي چې له امله یې ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې اوښتو تر څنګ درانه ځاني تلفات هم اوښتي دي. ګڼو هېوادونو او نړیوالو بنسټونو دغه بریدونه غندلي دي.
سره له دې چې د کابل د امنیت مسوولیت د ولسمشر لومړي مرستیال ته سپارل شوی او د دغه ښار د امنیت لپاره په سختو هڅو بوخت دی، خو بیا هم په کابل ښار کې جنایي پېښې او ترهګریز بریدونه روان دي. د مقناطیسي ماینونو چاودنې ډېرې شوې او تر څنګ یې ملکي مرګ ژوبله هم ډېره شوې ده. د دغه هر څه په دوام، تېره ورځ کابل ښار د ۲۳ راکیټي بریدونو شاهد و. د دغو راکیټونو له امله اته ملکیان وژل شوي او ۳۱ نور ټپیان دي.
د کورنیو چارو وزارت د وروستیو معلوماتو له مخې، د لسمې حوزې په مربوطاتو کې ۷ راکېټونه لګېدلي چې د معلوماتو له مخې، ۳ تنه یې وژلي او ۳ نور ټپیان دي، همداراز د ۱۵مې حوزې اړوند سیمه کې ۳ راکیټه لګېدلي چې تلفات نه لري. د نهمې حوزې اړوند سیمه کې یو راکیټ لګېدلی چې له امله یې دوه کسه ټپیان شوي دي. په کابل کې د ایران سفارت ویلي چې له دغو توغندیو یو یې د دغه سفارت په مربوطاتو کې لګېدلی، خو مرګ ژوبله نه لري.
تر دې دمه د دغو بریدونو مسوولیت کومې ډلې نه دی منلی، خو افغان حکومت یې د طالبانو کار بولي. د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین وایي چې دغه توغندي د وسله والو طالبانو له لوري پر کابل ښار توغول شوي، خو د وسله والو طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد بیا په یاده پېښه کې لاس لرل رد کړي دي. کورنیو چارو وزارت وایي چې توغندي په کابل ښار کې له دوو سیمو تهیه مسکن او بادام باغ پر نورو سیمو توغول شوي دي.
له دې سره جوخت په هېواد کې د ځینو هېوادونو سفارتونو او نړیوالو بنسټونو دغه بریدونه غندلي دي. په کابل کې د برېټانیا، امریکا، پاکستان او ایران سفارتونو ویلي چې دغه ډول ړانده بریدونه له ټولو نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې عمل دی. د امریکا سفارت یې خپلو اتباعو ته امر کړی چې تر دویم امر پورې دې په خوندي ځایونو کې پاتې شي او له تګ راتګ دې ډډه وکړي. همدا راز د برېټانیا سفارت بیا دا پېښې ټکان ورکوونکې بللې او تمه یې څرګنده کړې چې ژر تر ژره په افغانستان کې روانه جګړه د خبرو له لارې ختمه کړل شي.
په کابل کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر بیا دغه پېښې غندلې دي او پر افغان حکومت یې غږ کړی چې د عاملینو په محاکمه او نیولو کې یې هڅه وکړي. د یوناما له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې دغه ډول ړانده راکیټي بریدونه او ملکي تلفات ټکان ورکوونکي دي او په کلکو ټکو یې غندلي.
ولسمشر غني هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره دغه بریدونه غندلي دي. نوموړي ویلي، د ترهګرۍ پر وړاندې ګډې مبارزې ته اړتیا ده او تر څنګ یې ملګري ملتونه باید له خپلو صلاحیتونو د ترهګرو د کنټرول او کمزوري کولو لپاره استفاده وکړي. د ولسمشر غني په خبره، افغانان د نړیوالې ټولنې ملتیا ته اړتیا لري او نړیواله ټولنه دې له افغان حکومت او د ترهګرۍ پر وړاندې د دغه حکومت له تګلارو کلک ملاتړ وکړي.

## د بشري حقونو کمېسیون: حکومت دې ژر تر ژره د بې هویته ماشومانو لپاره کړنلاره جوړه کړي



د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي، حکومت دې د بې هویته ماشومانو د هویت د تثبیت لپاره یو قانوني کړنلاره جوړه کړي، څو له بشري او انساني حقونو برخمن شي.
د یاد کمېسیون موندنې ښیي چې په دولتي او غیر دولتي روزنتونونو کې یو شمېر ماشومان بې هویته دي او د پېژندنې کوم سند نه لري.
د دغه کمېسیون د ماشومانو د ملاتړ برخې مسوول نجیب الله ببرک زي تېره ورځ د راپور د خپرولو پرمهال وویل، دوی د ۲۷ ولایتونو په روزنتونو کې دا پلټنې کړې او ۶۷ بې هویته ماشومان یې موندلي، چې ډېری یې په هرات او کابل کې دي.
نوموړي ویلي، حکومت دې د بې هویته ماشومانو د هویت د تثبیت لپاره یوه قانوني کړنلاره جوړه کړي، څو دوی له خپلو بشري حقونو برخمن شي.
د هغه په خبره: «په روزنتونونو کې له ۶۰ زیات داسې ماشومان شته، چې حتی دوی په خپل نوم او د پلار په نوم نه پوهېږي، هویت یې نامعلوم دی، نسب نه لري او روزنتون ورته نوم ایښی، د ماشومانو د حقونو کنوانسیون له مخې، د دې لپاره چې دوی راتلونکي کې له ستونزو سره مخ نه شي، تعلیم وکړي، دوی باید نوم ولري او کورنۍ ربښتې یې معلومې شي، حکومت باید په دې برخه قانوني اقدام وکړي او یوه کړنلاره ورته جوړه کړي.»
هغه زیاتوي، دغه ماشومان د خپلو کورنیو یا هم نامعلومو کسانو له خوا او یا د جګړې له ځایه روزنتونونو ته راوړل شوي، چې اوس یې ادرس ورک دی.
د بشري حقونو کمېسیون موندنې ښیي، چې په رزونتونو کې داسې ماشومان هم شته چې خپلوان لري، خو ډېر وخت کېږي، چې څوک یې لیدو ته نه دي راغلي.
په راپور کې دا هم ویل شوي چې په هېواد کې له ۱۵ کلونو کم عمر لرونکي ۵۸ سلنه ماشومان د تابعیت تذکرې نه لري.
د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي، چې د افغانستان په قوانینو کې د بې هویت ماشومانو لپاره څه نه شته.

## ولسمشرغني: ملګري ملتونه دې پر طالبانو د فشار لپاره خپل بندیزونه پلي کړي



د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ځانګړې غونډه کې د بحث اصلي ویناوالو په افغانستان کې د سولې او ثبات د راتلو لپاره د هڅو پر چټکېدو ټینګار وکړ.
ولسمشر غني د امنیت شورا په غونډه کې د ګڼو نورو ګډونوالو په څېر د ویډیو کنفرانس له لارې براخه اخېستې وه او په خپله وینا کې یې د سولې لپاره د افغان دولت له هڅو او د ده په خبره، قربانیو یادونه وکړه.
نوموړي طالبان تورن کړل چې له امریکا سره د سولې تر هوکړې وروسته یې تاوتریخوالی ډېر کړی او ګڼو افغانانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده.
ولسمشر غني د ملګرو ملتونو له امنیت شورا څخه غوښتنې وکړې چې یوه او مهمه یې د سولې د خبرو د بریا لپاره پر طالبانو د بندیزونو پلي کول وو.
هغه ویلي: «زه له شورا څخه غوښتنه کوم چې له طالبانو سره د خبرو اترو د بریا لپاره د کلیدي وسیلې په توګه د بندیزونو په پوره او اغېزمن پلي کولو باندې ټینګار وکړي. طالبانو تر دې دمه ټاکلي شرایط نه دي پوره کړي. بندیزونه یوازې هغه وخت مؤثریت لرلی شي چې د ټولو له خوا پلي شي او په اوسني میکانېزم کې په هر ډول بدلون باندې غور باید یوازې د سولې په پروسې او د هغې په پایلو کې د پام وړ پرمختګ د راتلو په صورت کې وشي چې موږ لا تر اوسه نه دي لیدلي او همدا راز یوه داسې افغانستان ته د طالبانو تعهد چې په هغه کې د ښځو اساسي حقونه خوندي وي او لږه‌کي بیا له تبعیض سره مخ نه شي.»
د راپورونو پر اساس، د افغان سولې د هڅو په پیل سره د طالبانو په ځینو مشرانو باندې د ملګرو ملتونو لګېدلي بندیزونه نرم شوي او د دغه نرمښت یوه پایله او بېلګه بېلابېلو هېوادونو ته د طالب مشرانو ازادانه تګ راتګ دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۹۵ |
| € | ۹۰,۲۰ |
| Rp. | ٤۸۷ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۸۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ دویمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۲مه | ٦۳۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۷ | ۱۸ | ۲۰ | ۱۹ | ۱۵ |
| ۰ | ۴ | ۵ | ۷ | ۶ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰٦ | لمر ختل ۰٦:۳۳ | ماسپښین ۱۱:٤۰ | مازیګر ۰۲:۲۷ | ماښام ۰٤:٤٦ | ماخوستن ۰٦:۱٤

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۵۸ میلیونو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۵۸ میلیونه او ۷۳ زره او ۳۴ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۳۸۰ زره او ٦۰۸ کسان مړه شوي او له ۴۰ میلیونو ډېر تري بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۲ میلیونه او ۲۸۲ زره او ۷۹۴ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲٦۰ زره او ۳۹۴ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ٦۰ زره او درې سوه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۲۰ زره او ۱٦۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د دوه میلیونه او ۱۰۹ زره او ۱۷۰ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او روسیه د دوه میلیونه او ٦۴ زره او ۷۴۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ارجنټاین، ایټالیا او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: د لبنان په پلازمېنه کې لسګونه بندیان له یوه زندانه تښتېدلي

د راپورونو له مخې، په لبنان کې لسګونه بندیان له یوه زندانه په تېښته بریالي شوي دي. د دغه هېواد پولیس وايي، چې له جمهوري ریاست سره نږدې دغه زندان نه چې امنیتي تدابیر پکې په جدي توګه خارل کېږي، ٦۹ بندیان تښتېدلي دي.

پولیسو همدارنګه ویلي چې د دغو بندیانو له ډلې یې ۱۵ بېرته نیولي او نور په تېښته بریالي شوي دي.

د پولیسو په یوې اعلامیې کې دغه راز ویل شوي چې پنځه بندیان هغه وخت ووژل شول چې د غلا په موټر کې سپاره وو او موټر له ونې سره وجنګېده.

په دې پېښه کې یو بندي ټپي شوی او چارواکو د علاج لپاره روغتون ته وړی دی. پولیس وايي چې د نورو بندیانو د پیدا کولو لپاره د لټون عملیات روان دي. تر اوسه نه ده معلومه چې دا بندیان څنګه د پلازمېنې بېروت په لوېدیځ کې د بعبدا له زندان څخه تښتېدلي، خو د یاد هېواد څارنوالي غاداآعون د پېښې په هکله د ژر تر ژره څېړنو امر کړی دی. آعون د اې اېف پي خبري اژانس ته ویلي چې ښایي د زندان ساتونکو به له بندیانو سره لار جوړه کړې وي او د هغوی د تېښتې لپاره یې شرایط برابر کړي وي.

## سنای امریکا: خروج نیروهای امریکایی را در اوضاع کنونی از افغانستان اشتباه بزرگ است





پس از دستور رئیس‌جمهور ایالات متحدۀ امریکا برای کاهش نیروهای امریکایی به ۲۵۰۰ تن در افغانستان، کمیتۀ نیروهای مسلح مجلس سنای امریکا نشستی را برای بررسی پیامدهای این تصمیم دونالد ترمپ دربارۀ افغانستان برگزار کرد.

اعضای کمیتۀ نیروهای مسلح مجلس سنای امریکا می‌گویند که ایالات متحده هنوز هم با تهدید گروه‌های تروریستی فراکشوری روبه‌رو است و نیاز است که امریکا به مأموریت‌اش در افغانستان ادامه دهد. این قانون‌گذاران امریکایی می گویند هنوز باور ندارند که افغان‌ها بتوانند امنیت کشور شان را تأمین کنند. آدم اسمیت، رئیس کمیتۀ مسلح نیروهای مجلس نماینده‌گان امریکا گفت: «بخش‌هایی که حاکمیت نداشته باشند و حکومت آن کشور ضعیف باشد، زمینۀ خوبی برای رشد گروه‌های تروریستی استند. جنوب آسیا جایی است که گروه‌های بسیاری می‌توانند از آن استفاده کنند. بسیاری‌ها گفته‌اند که اگر افغانستان سقوط کند، دوباره به یازدهم سپتمبر باز خواهیم گشت.» هرچند این سیاست‌گران امریکایی تأکید می‌ورزند که نمی‌خواهند نیروهای امریکایی همیشه در افغانستان بمانند، زمینه را برای خروج آنان مناسب نمی‌دانند. مک تورنبیری، عضو کمیتۀ نیروهای مسلح مجلس نماینده‌گان امریکا بیان داشت: «هدف تمامی ما این است که افغانان بتوانند خودشان به مسایل امنیتی شان رسیده‌گی کنند تا از آن کشور هیچ تهدید هراس‌افگنانه فراکشوری پیدا نشود؛ اما باور ندارم که هنوز به این توانایی رسیده باشند.» یک عضو شورای روابط خارجی امریکا، خروج و کاهش نیروهای امریکایی را در اوضاع کنونی از افغانستان اشتباه می‌داند.


## ژونــــد

## سامسُنګ د ګلکسي نوټ لړۍ له منځه وړي



د سویلي کوریا د ټکنالوژۍ پیاوړې او پېژندل شوي کمپنۍ هر کال ډېر مختلف ځیرک موبایلونه وړاندې کوي، خو ګلکسي اېس او نوټ لړۍ بیا د دې کمپنۍ تر ټولو پیاوړي او غښتلي ځیرک موبایلونه دي. اوس داسې ښکاري چې سامسُنګ کمپنۍ د ۲۰۲۱ کال لپاره نوې کړنلاره خپله کړې ده. د معلوماتو افشا کوونکې باوري سرچینه، مکس وینبخ چې اوسمهال د انډرایډ پولیس وېب‌پاڼې لپاره کار کوي، ادعا کوي چې سامسُنګ کمپنۍ راتلونکی کال د ګلکسي نوټ لړۍ ځیرک موبایلونه نه وړاندې کوي. د نوموړې سرچینې په خبره، سامسُنګ کمپنۍ به په ۲۰۲۱ کې څلور د ګلکسي اېس۲۱ د لړۍ او درې د فولډېبل ګلکسي زي لړۍ ځیرک موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کړي. د راپورونو پر بنسټ، دغه ۷ معرفي کېدونکي ځیرک موبایلونه به له اېس – پېن څخه د ملاتړ وړتیا ولري، کوم چې له دې وړاندې د نوټ لړۍ یوه له مهمو ځانګړنو څخه وه.

## دغه خواړه مو د بدن د اړتیا وړ کلسیم پوره کوي



هډوکي په ځوانۍ کې قوي وي، خو د وخت په تېرېدو د هډوکو مقاومت راټیټېږي. د هډوکو د مقاومت ټیټوالی په ښځو کې هغه مهال لا ډېرېږي، چې عمر یې لوړ شي. کلسیم د هډوکو د قوي کولو لپاره ښه عنصر دی. هغه کسان چې عمرونه یې تر۵۰ کلونو پورته دي، باید هره ورځ زر میلي ګرامه شیدې وخوري؛ ځکه شیدې د کلسیم قوي سرچینه ده. مستې هم په غذایي لحاظ د شیدو په څېر دي. که تاسو د شیدو له لکتوز سره حساسیت لرئ، نو مستې او پنیر هغه څه دي چې دغه مواد پکې تر شیدو کم دي. دغه راز له نورو هغو محصولاتو هم استفاده کولای شی چې لکتوز پکې کم وي. یوازې شیدې هم کلسیم نه لري، بلکې هغه کبان هم چې واړه هډوکي لري، د کلسیم په برخه کې ډېر غني دي او خوړل یې د هډوکو د پیاوړتیا لپاره ډېر ګټور دي. د دې تر څنګ ډېر نور خواړه او مېوې هم شته چې په خپل ترکیب کې په زیاته پیمانه کلسیم لري او د هډوکو له پیاوړتیا سره مرسته کوي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه



عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېتمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515